یونیسف افغانستان

د بشري وضعیت راپور

د راپور ورکولو موده: د ۲۰۲۵ کال د جنورۍ میاشتې له لومړۍ نېټې د جون میاشتې تر ۳۰مې نېټې پورې

شپږمه شمېره راپور

مهم ټکي

- په ۲۰۲۵ کال کې، د ټول نفوس څه باندې ۵۰ سلنه، چې شاوخوا ۲۳ میلیونه کسان کېږي، بشري مرستو ته اړتیا لري، چې په دې کې ۱۲ میلیونه ماشومان دي.
- په ګاونډیو هېوادونو پاکستان او ایران کې سیاسي بدلونونه په افغانستان کې د بېرته را ستنېدونکو د کړکېچ لامل شوی، چې دا شمېره د کال په دویمه نیمایي کې تر ټولو لوړې کچې ته ورسېده. د ۲۰۲۵ کال د جنورۍ له لومړۍ نېټې څخه د جون تر ۲۹ پورې، ټولټال ۷۱۴,۵۷۲ افغان بېرته راستنېدونکي له ایران څخه راستانه شوي دي. د دې مودې په جریان کې له ثبت شوو بېرته ستنېدونکو څخه ۹۹ سلنه بې اسنادو او ۷۰ سلنه په زور راستانه شوي وو.
- د ۲۰۲۵ کال له جنورۍ تر جون پورې، څه باندې ۱۹ میلیونه کسان د یونیسف له ملاتړ د برخمنو مرکزونو او ګرځنده ټیمونو له لارې اړینو روغتیايي خدمتونو ته لاسرسی پیدا کړ.
- د کال په لومړۍ نیمایي کې، له ۹.۵ میلیونو څخه ډېر ماشومان د خوارځواکۍ لپاره معاینه شول، چې له دې ډلې ۲۷۴,۷۸۱ ماشومان (۵۸ سلنه نجونې) له بستر پرته مراقبت لپاره شامل شول او ۲۳,۱۵۲ ماشومان د بستر درملنې لپاره ومنل شول.
- د کال په لومړۍ نیمایي کې، یونیسف د څه باندې ۷۳۰,۰۰۰ ماشومانو او د هغوی سرپرستانو/ مراقبینو ته د ماشومانو د خوندیتوب د مخنیوي، د خطر کمولو او د ځواب ویلو په برخه کې (۵۹ سلنه ماشومان) رسېده کې وکړه.

د وضعیت عمومي کتنه او بشري اړتیاوې

په افغانستان کې خلک لا هم له یوه شدید بشري کړکېچ سره مخ دي، چې دغه کړکېچ لسیزو جګړو، ژورې بېوزلۍ، د اقلیم له بدلون څخه رامنځته شوو ټکانونو، د نفوس د چټک زیاتوالي او د خوندیتوب د زیاتېدونکو ګواښونو، په ځانګړي ډول د ښځو او نجونو لپاره، تعریف کړی دی. په ۲۰۲۵ کال کې د هېواد له نیمایي ډېر نفوس نږدې ۲۳ میلیونه کسان بشري مرستو ته اړتیا لري. دا مرسته په چټکۍ سره مخ پر کمېدو دي.

په ګاونډیو هېوادونو پاکستان او ایران کې سیاسي بدلونونه په افغانستان کې د بېرته را ستنېدونکو د کړکېچ لامل شوي، چې دا شمېره د کال په دویمه نیمایي کې تر ټولو لوړې کچې ته ورسېده. د ۲۰۲۵ کال د جنورۍ له لومړۍ نېټې څخه د جون تر ۲۹ پورې، ټولټال ۷۱۴,۵۷۲ افغان بېرته راستنېدونکي له ایران څخه راستانه شوي دي، چې له دې ډلې یوازې د جون په میاشت کې له ۲۵۶ زرو زیات کسان بېرته راستانه شوي دي. د دې مودې په جریان کې له ثبت شوو بېرته ستنېدونکو څخه ۹۹ سلنه بې اسنادو او ۷۰ سلنه په زور راستانه شوي وو.. یوه نوې اندېښنه دا ده چې د کورنیو د شړلو کچه لوړه شوې، په داسې حال کې چې د تېرو میاشتو ډېرې بېرته راستنېدونکي یوازې ځوانان وو. د بې اسنادو افغان کډوالو بې ساري زیاتوالی چې له ایران څخه راستنېږي، پر هغو بنسټیزو خدماتو چې له مخکې تر فشار لاندې وو، نور فشار هم زیات کړی دی. دغې بې ساري راستنېدنې په پولو کې د خدماتو وړاندې کولو سرچینې تر وروستۍ حده ورسولې، په داسې حال کې چې د جدي مالي کسر له امله همکارې ادارې د غېرګون بشپړ توان نه لري.

د وړاندوینې په موده کې (د ۲۰۲۵ له مې څخه تر اکتوبر پورې) چې په افغانستان کې د حاصلاتو له موسم سره سمون لري، اټکل کېږي چې ۹.۵۲ میلیونه کسان (د نفوس ۲۱ سلنه) به د خوړو د خوندیتوب د درېیم یا له هغه پورته پړاو (کړکېچ یا له هغه بد) کې وي. ۱.۶ میلیونه کسان (د ټول نفوس ۴ سلنه) به په ځلورم پړاو (بېړنۍ حالت) کې او شاوخوا ۷.۹۳ میلیونه (د ټول نفوس ۱۷ سلنه) د درېیم پړاو (کړکېچ) کې شامل وي. کلنۍ ښه والی په عمده توګه د ښه شوي اقتصاد، د جګړو د کموالي او د بشري مرستو د خوړو او بېرنیو کرنیزو ملاتړونو د ګډو اغېزو له امله رامنځته شوی دی[1]. افغانستان لا هم د نړۍ له هغو هېوادونو څخه دی چې د ماشومانو د تغذیې له جدي خو کمه پاملرنه شوي کړکېچ سره مخ دی. تر ۲۰۲۵ کال پورې، ۳.۵ میلیونه کوچني ماشومان د خوارځواکۍ له ستونزې ځوریږي، چې له دې ډلې ۱.۴ میلیونه د مړینې له جدي خطر سره مخ دي. د اندېښنې وړ خبره دا ده چې د دغو ماشومانو څه باندې ۸۵ سلنه تر دوو کلونو کم عمر لري.

افغانستان لا هم د هغو ناروغیو پر وړاندې ډېر زیانمن دی چې د وبا په څېر خپرېږي او د ۲۰۲۵ کال له جنورۍ تر جون پورې ځارنیز معلومات ښیي چې په هېواد کې د ساري ناروغیو کچه لوړه پاتې شوې ده. د اوبو له امله رامنځته شوی شدید نس ناستی چې د بدن د اوبو د وچېدو لامل کېږي، خپرېدل روان دي، چې د کال په لومړۍ نیمایي کې ۷۳,۵۷۰ پېښې او ۱۲ اړوند مړینې ثبت شوې دي. له دغو پېښو څخه ۵۸.۴ سلنه تر پنځو کلونو کم عمره ماشومان وو. تر ټولو ډېرې پېښې په نیمروز، خوست، پکتیا، فراه او کابل ولایتونو کې ثبت شوې، چې د پاکو اوبو او د حفظ الصحې د خدماتو د نه لاسرسي ستونزه خرګندوي. شرۍ (سرخکان) هم د روغتیا جدي ګواښ پاتې شوی، چې ۷۴,۸۸۱ شکمنې پېښې او ۳۵۷ اړوند مړینې ثبت شوې، چې ډېرۍ یې (۷۸.۷ سلنه) تر پنځو کلونو کم عمره ماشومانو وو. د شرۍ تر ټولو ډېرې پېښې په هلمند، نورستان، بدخشان، جوزجان او ارزګان کې ثبت شوې دي. د شدیدو تنفسي انتاناتو او سینه بغل پېښې هم د کال په لومړۍ نیمایي کې پراخې وې، چې ۸۲۴,۰۰۹ پېښې ثبت او تداوي شوې دي. په دې موده کې ټولټال ۹۴۸ د ناروغۍ خبرتیاوې ثبت شوې، چې تر ټولو زیاتې یې (له ۴۹ سلنې زیات) د شرۍ وې، وروسته له هغې د شدید نس ناستي، تنفسي انتاناتو او نورو ناروغیو لکه د

[1] د افغانستان د خوړو د خوندیتوب د شدید کړکېچ تحلیل (مارچ-اکتوبر ۲۰۲۵).

ډینګي تبه، شنه ټوخلي، چیچک، سکبیس او د کریمیا کانګو وینه بهیدونکي تبه وي. دا ټول حالتونه د واکسین د کمزوري پروګرام، د اوبو او حفظ الصحې د خراب وضعیت او د روغتیايي خدماتو د کم ظرفیت ښکارندوي کوي، چې په ځانګړي ډول د لوړ خطر لرونکو ولایتونو ماشومان اغیزمنوي[2].

د پروګرام د غبرګون لنډ تحلیل

روغتیا

یونیسف د هېواد په ټولو ۳۴ ولایتونو کې د ۲،۳۹۰ ثابتو روغتیايي مرکزونو د لومړنیو، منځنیو او عالي کچې اساسي او اړینو روغتیايي خدماتو وړاندې کولو ملاتړ ته دوام ورکړ. له دې ډلې په لسو ولایتونو کې د ۷۴۳ روغتیايي مرکزونه له لارې د ډبرو اغیزناکو اقداماتو په موخه ملاتړ وکړ، په هغو کې تر زیږون وروسته د ویني د بهېدو پر مخنیوي او درملنه، د نویو زیږیدلو ماشومانو له عفونت څخه پر مخنیوي او د زیږون پر کنترول تمرکز شامل دی. یونیسف همداراز د نړۍ ۲۷,۵۶۷ روغتیايي کارکوونکو (چې ۱۰،۵۰۹ یې ښځې وې، یعنې ۳۸ سلنه) تنخواوې هم ورکړې تر څو د میندو او ماشومانو د پاملرنې بهیر روان وساتل شي. د دې په پایله کې، څه باندې ۱۹ میلیونه خلک (چې ۲۷ سلنه یې له پنځه کلنۍ کم عمره ماشومان وو) د یونیسف لخوا په تمویلېدونکو روغتیايي مرکزونو کې او د ۱۶ ګرځنده روغتیا او تغذیې ټیمونو په ګډون اړینو روغتیايي خدماتو ته لاسرسی وموند.

د ۲۰۲۵ له پیل څخه یونیسف د خپلو پلي کوونکو همکارو مؤسسو په مرسته د ناروغیو له څارنې څخه د راغلو ۹۴۸ بېرنیو خبرتیاوو ته غبرګون وښود. چې په دې کې شرۍ یا سرخکان، شدید تنفسي انتانات/سینه بغل، شدید نس ناستی (اسهال)، چیچک، سکبیس، ډینګي تبه، غوایي چیچک، کانګو تبه، شنه ټوخلي او نور شامل وو. له دې ډلې، له ۴۹ سلنې زیاتې پېښې په شرۍ پورې تړلې وې. په ټولنیز ډول له جنورۍ څخه تر جون پورې د شرۍ د ۷۴،۸۸۱ پېښو راپور ورکړل شوی چې مدیریت شوې. پردې سربېره، د اوبو له لارې د بدن د اوبو له کمېدو سره د شدید نس ناستي ۷۳،۵۷۰ پېښې او ۸۲۴،۰۰۹ د شدیدو تنفسي انتاناتو او سینه بغل پېښو راپور ورکړل شوی او درملنه شوې.

د هغو سیمو لپاره چې د شرۍ ناروغۍ او شدید نس ناستي له دوامداره خپرېدو سره مخ وې، په سوبل، ختیځ او د مرکزي زون په دایکندي ولایت کې په ټولیزه توګه ۲،۱۵۶ ډاکټران او نرسان د تنفسي انتاناتو او موخې وړ خپرېدونکو ناروغیو په برخه کې وروزل شول؛ له دې جملې، ۱،۳۸۸ نارینه او ۷۶۸ ښځې وې. همدا راز، ۷،۶۳۲ ټولنیز روغتیايي کارکوونکي او ټولنیز روغتیايي څارونکي د ټولنې په کچه د تنفسي انتاناتو او شدید نس ناستي (اسهال) د مدیریت او د موخې وړ ناروغیو د څارنې په برخه کې وروزل شول؛ چې په کې ۳،۴۴۵ نارینه ټولنیز روغتیايي کارکوونکي، ۳،۸۳۷ ښځینه ټولنیز روغتیايي کارکوونکي او ۳۵ ټولنیز روغتیايي څارونکي شامل وو. د روغتیايي سیستم د وړتیا د ښه کولو او بېرنیو حالاتو ته د غبرګون د وړتیا د لوړولو لپاره، د ۲۰۲۵ کال په مې میاشت کې په کابل کې د روغتیايي بېرنۍ چمتووالي او غبرګون په اړه پنځه ورځنی ورکشاپ وړاندې شو. په دغه ورکشاپ کې د یونیسف د روغتیا، تغذیې، اوبو، حفظ الصحې او پاکوالي او ټولنیز چلند د بدلون ټیمونو غړي او ستراتیژیکې پلي کوونکي همکارې مؤسسې شاملې وې. په ټولیزه توګه ۳۷ ګډونوال د دې روزنې ګټه اخیستونکي شول چې د افغانستان د روغتیايي پروګرامونو د مدیریت لپاره اړینې وړتیاوې پې زده کړې. دا روزونکي به په ولایتي کچه روغتیايي کارکوونکو ته هم دغه روزنه ورسوي څو د روغتیايي بېرنۍ چمتووالي او غبرګون په برخه کې پې وړتیا لوړه شي.

د بېرته راستانه شویو، په ځانګړي ډول ښځو او ماشومانو لپاره، یونیسف په پولو کې د صفري نقطو، لنډمهالي استوګنې مرکزونو او د راجع کولو په ځایونو کې لومړنۍ روغتیايي خدمات وړاندې کړل، چې تمرکز یې د راجع کولو د میکانیزمونو پر پیاوړتیا و. دغو خدماتو کې واکسین کول، واکسینونه، د د واکسین د ساړه ساتلو تجهیزات، اړین درمل، د نویو زیږیدلو ماشومانو او ماشوم مرابت خدمات، د شدید نس ناستي او پاک زیږون بسته شاملې وې. په دې موده کې ۱۴،۰۵۳ بېرته راستانه شویو (۵،۰۱۵ نارینه، ۴،۲۷۹ ښځې او ۴،۷۵۹ ماشومان) روغتیايي خدماتو ته اړتیا لرله او لاسرسی یې ورته پیدا کړ. شاوخوا ۲۹،۱۹۴ بېرته راستانه شوي ماشومان د شرۍ ناروغۍ پر وړاندې واکسین شول.

د دې لپاره چې په ټولنه کې د شدید نس ناستي/کولرا د خپرېدو د مخنیوي او غبرګون لپاره چمتووالی ونیول شي، ۱۵،۹۸۲ روغتیايي ځایونه د زېنک او د خولې له لارې د بدن د اوبو پوره کولو (ORS) پوډر ټولو دغو ځایونو ته ورسول شول. پر دې سربېره، بېلابېل ډولونه روغتیايي تجهیزات، څه باندې ۳۰۰ ډوله د شدید نس ناتسي بستې، څه باندې ۳۰۰،۰۰۰ د زېنک/او آر اېس ګډې بستې، څه باندې ۴۰۰ د بین الاداري بېرنۍ روغتیايي بستې او درمل، ټولو د یونیسف ملاتړ لرونکو سیمو کې همکارو مؤسسو ته واستول شول تر څو د احتمالي ناروغیو د خپرېدو لپاره مخکې له مخکې زېرمه شي.

د معمول واکسین د ښه کولو لپاره، یونیسف ۸۵۲’۲۱۷ ماشومان د شرۍ پر وړاندې او ۱۲۴’۲۷۱ کسان د کرونا پر وړاندې واکسین کړل. پر دې سربېره، ۷۵۱’۹۰۵ ماشومانو پنځه‌ګونی (پینټاولینټ-۳) واکسین ترلاسه کړ. په ټوله کې ۲’۲۸۷ د واکسین د ساړه ساتلو کارکوونکي او واکسین ورکوونکي د ساړه ساتلو د وسایلو او د واکسین د مدیریت په اړه وروزل شول. د واکسین د ساړه ساتلو د وسایلو د ظرفیت د ښه کولو لپاره، ۳۵۵ سولري یخچالونه (SDD) واخیستل شول، د عامې روغتیا وزارت سره ثبت شول او د وېش لپاره تیار دي. د ولایت په کچه د واکسین د پراختیا پروګرام د دوو ودانیو (په پکتیکا او جوزجان) او یوه ګدام (په جوزجان) قراردادونه بشپړ شول او اړوندو ولایتي ټیمونو ته وسپارل شول. د اغیزناک واکسین د مدیریت ارزونه په ۱۰۳ ځایونو کې د ۶۳ روزل شویو ارزونکو له خوا ترسره شوه. د معلوماتو پاکول بشپړ شوي او د دوامدار ښه والي پلان د جوړېدو په حال کې دی. د مور، نوي زېږیدلي او د ماشوم د روغتیا د خدماتو د کیفیت ښه کولو لپاره، د ۲۰۲۵ د جنورۍ او جون ترمنځ، د لوړې اغیزې لرونکو ارزښتناکو اقداماتو په چوکاټ کې، د ولایت په کچه روزنې بشپړې شوې چې د مور، نوي زېږیدلي او ماشوم د روغتیا مهمې بستې نوي زېږیدلي اړین مراقبت، د مور او نوي زېږیدلي مړینې څارنه او راپور ورکول، د مور/نوي زېږیدلي روغتیايي ستونزو مدیریت، د ماشومانو لپاره د اکسیجن درملنه، له زیږون سره د مل عیبونو په اړه مشوره، له زیږون مخکې او وروسته روانې روغتیا، د نوي زېږیدلي ماشوم برمختللې پاملرنه، او الټراسوند) پکې شامل وو. په ټوله کې ۵’۱۵۷ د مور او نوي زېږیدلي د روغتیا خدماتو وړاندې کوونکي وروزل شول (۸۸٪ ښځې او ۱۲٪ نارینه) چې له دې جملې ۸۰۲ په سوبلي، ۴’۰۲۴ په لوېدیځ او ۳۳۱ په مرکزي زون کې وو او تر ۸۰ سلنې ډېرې زده کوونکي ښځې وې. همدار راز، په همدې موده کې له امېندوارۍ مخکې او وروسته پاملرنې، تر زیږون وروسته پاملرنې او د امېندوارۍ پر مهال د غیرساري ناروغیو د مدیریت ملي لارښودونه جوړ او د بشپړېدو په حال کې دي. پر دې سربېره، د مور او نوي زېږیدلي د پاملرنې اړین توکي واخیستل شول او د سوبلي، لوېدیځ او مرکزي زون ۳۵۰ روغتیايي مرکزونو ته ووېشل شول.

په همدې موده کې، یونیسف د ټولنیزو روغتیايي کارکوونکو له لارې د محرومو ټولنو لپاره د لومړنیو روغتیايي خدماتو د لاسرسي د پراخولو ملاتړ ته دوام ورکړ. د جنورۍ او جون ترمنځ، ټولنیزو روغتیايي کارکوونکو په ټوله کې ۷۳۱’۲۶۹ د شدیدو تنفسي انتاناتو پېښې او ۴۶۳’۵۷۳ د نس ناستي پېښې درملنه

[2] د ملي ناروغیو د څارنې غبرګون او د روغتیا کلستر راپور.

کړي او ۳۰۳٬۹۳۸ د شديدو تنفسي انتاناتو پېښې پېښې او ۱۴۶٬۳۷۶ د نس ناستي پېښې پېښې روغتيايي مرکزونو ته راجع کړي. همدا راز، په ټول هېواد کې د ټولنيزو روغتيايي کارکوونکو له خوا له شاوخوا ۱۶٬۳۰۰ روغتيايي ځايونو څخه ۶۹۳٬۱۴۳ له امېندوارۍ مخکې او ۲۷۱٬۳۶۴ تر زيږون وروسته کورنۍ ليدنې ترسره شوې.

د ۲۰۲۵ له جنورۍ تر جون پورې، د ټولنيز او چلند بدلون په برخه کې په ټول هېواد کې د ټولنې د بسيج او د نظرياتو د راټولولو او همدا راز د عامه رسنيو او ډيجيټلي پلټفارمونو له لارې د پوهاوي پايلې ترلاسه شوې. د ټولنيز بسيج او نظرياتو د راټولولو له لارې، ۱٬۴۳۴٬۰۰۰ کسان (۴۶٪ ښځې) له ژوند ژغورونکو معلوماتو سره بلد شول چې د خوارځواکۍ د مخنيوي، د شيدو ورکولو کچه لوړول، واکسين، روانې روغتيا، د ناروغيو مخنيوی، د اوبو خوندي استعمال، په پرانيستې فضا کې د حاجت رفع کولو د مخنيوي او د حفظ الصحې ترويج پکې شامل و.

په ورته وخت کې، د عامه رسنيو او ډيجيټلي پلټفارمونو له لارې ۹٬۰۰۰٬۰۰۰ تر خطر لاندې او اغېزمن شوي وګړي، د بشري حالتونو او ناروغيو د خپرېدو په اړه، په وخت سره ، مناسب او د عمر او جنسيت مطابق مهم معلومات ترلاسه کړل. دغه پوهاوی د شري، شديدو تنفسي انتاناتو او شديد نس ناستې په اړه د کمپاينونو له لارې ترسره شو چې ۳٬۹۹۱ دقيقې محتوا (۲٬۹۳۶ دقيقې په راډيو او ۱٬۰۵۵ دقيقې په تلويزيون) د زياتو ليدونکو/اورېدونکو په وخت کې خپره شوه. د همکارو مؤسسو په مشرۍ کمپاينونو له ۲٬۵۰۰ ډېر کسان د کريميا کانګو ويني بهېدونکې تبې د مخنيوي په اړه خبر کړل، په داسې حال کې چې د شديد نس ناستې د خپرېدو پر مهال د حفظ الصحې په جلسو او د بستو په وېش کې څه باندې ۹٬۹۰۰ کسان شامل وو. همدا راز، په کندهار ولايت کې ۱۱٬۲۹۷ کسانو ته د شري د مخنيوي په اړه زده کړه ورکړل شوه.

تغذيه

د تغذيې خدماتو د پياوړتيا لپاره د يونيسف ملاتړ دوام لري، اوس مهال له ۳،۳۵۰ څخه ډېر خدماتي مرکزونه فعال دي چې له زيږون تر ۵۹ مياشتو عمر لرونکو هغو ماشومانو ته باکيفيته تغذيوي درملنه برابروي چې له شديدې خوارځواکۍ ځورېږي. د ۲۰۲۵ له جنورۍ تر جون پورې، څه باندې ۹.۵ ميليونه ماشومان د خوارځواکۍ لپاره معاينه شول، چې له دې جملې ۲۷۴٬۷۸۱ ماشومان (شاوخوا ۵۸ سلنه نجونې) له بستر پرته درملنې لپاره ومنل شول او ۲۳٬۱۵۲ ماشومان چې له شديدې خوارځواکۍ او روغتيايي ستونزو سره مخ وو، د بستر درملنې لپاره راجع شول. د درملنې پروګرام ته د شاملو شويو ماشومانو شمېر هره مياشت ورو ورو زيات شو، چې يوازې په مې مياشت کې د موسمي بدلونونو، د شديد نس ناستې د پېښو زياتوالي او د ټولنې په کچه د مور، نوی زيږېدلي او کوچني ماشوم د ډله ييزو معايناتو له امله ۴۱ سلنه زياتوالی راغی، څو د افغانستان په کچه د خوارځواکۍ ژر تشخيص او راجع کول وشي. د لاسرسي او پوښښ د زياتولو لپاره، يونيسف د "کورنۍ روغتيا کورونو" له لارې د تغذيې خدمات د ټولنې په کچه پراخول او يو ځای کول پيل کړي دي. د ۲۰۲۵ له جنورۍ تر جون پورې، څه باندې ۲۰۰ "کورنۍ روغتيا کورونه" د اضافي کارکوونکو په وسيله د تغذيې د معاينې او مشورې خدماتو لپاره ملاتړ شول. همدا راز، د هېواد په کچه څه باندې ۱۰۰ د ډېر کار لرونکي مرکزونه د اضافي پرسونل په وسيله پياوړي شول.

د يونيسف د ظرفيت لوړولو نوښتونو له لارې له زيږون تر دوه کلنۍ پورې د ماشومانو ۱٬۱۸۶٬۰۶۴ اصلي مراقبينو/سرپرستانو د مور، ماشوم او کوچني ماشوم تغذيې په برخه کې مشورې ترلاسه کړې. پر دې سرېره، ۱٬۱۰۲٬۰۳۹ ښځو خو ګوني مغذي بشپړوونکي مواد ترلاسه کړل، څو د مور تغذيه ښه او د کم وزن خطر کم شي. په ټوله کې ۲٬۱۲۴٬۴۰۰ تنکيو نجونو (۱۹-۱۰ کلنې) ته د اوسپنې او فوليک اسيد ګوليو د اونيز پروګرام له لارې هره اوونۍ د اوسپنې او فوليک اسيد ګولۍ ورکړل شوې. همدا راز، له ۶ تر ۵۹ مياشتو عمر لرونکو ۹٬۸۵۳٬۰۰۹ ماشومانو ته د ويټامين A بشپړوونکي ورکړل شول او ۲٬۱۵۴٬۸۰۲ ماشومانو (۵۹-۶ مياشتې) ته د مايکرو نوټرېنټ پودر ورسول شو.

د کيفيت لرونکو خدماتو د وړاندې کولو د ملاتړ لپاره، په ټوله کې ۶۸۴ روغتيايي کارکوونکي د مور، ماشوم او نوي زيږېدلي ماشوم په اړه وروزل شول، او ۲٬۶۴۲ روغتيايي کارکوونکو د شديدې خوارځواکۍ د هر اړخيز مديريت په اړه روزنه ترلاسه کړه، چې پکې د بستر درملنه هم شامله وه. پر دې سرېره، ۱٬۱۳۵ ټولنيزو روغتيايي کارکوونکو ته د ټولنيزې تغذيې د بستې په چوکاټ کې روزنه ورکړل شوه او د همکارو مؤسسو ۲۹ کارکوونکي او د تغذيې د برخې ساحوي څارونکي د تدارکاتو د مديريت په برخه کې وروزل شول.

د تغذيې کلستر د همکارو مؤسسو په همغږۍ، يونيسف د بېرته راستنېدونکو کورنيو لپاره د مخنيوي او درملنې کيفيت لرونکي تغذيوي خدمات په سرحدي ځايونو، د لنډمهالې استوګنې په مرکزونو او د بېرته راستنېدونکو لپاره د هر اړخيز غبرګون د يوې برخې په توګه وړاندې کوي. له جنورۍ تر جون پورې، په ټوليز ډول ۳۷٬۷۵۶ بېرته راستنېدونکي ماشومان د خوارځواکۍ لپاره معاينه شول، چې له دې جملې ۱٬۷۴۰ ماشومان (شاوخوا ۵۷ سلنه نجونې) له بستر پرته د درملنې لپاره ومنل شول. پر دې سرېره ۱۶٬۴۳۸ ماشومانو ته د ويټامين A بشپړوونکي ورکړل شول او ۱۶٬۷۲۸ ماشومانو ته څوګوني مايکرو نوټرېنټ پودر ورسول شول. په ټوليز ډول ۱۲٬۵۷۹ لومړني مرا قين چې له زيږون تر ۲۳ مياشتو عمر لرونکي ماشومان لري د مور، نوی زيږېدلي او کوچني ماشوم مشورې ترلاسه کړې، او ۶٬۳۳۳ امېندواره او شيدې ورکوونکو ښځو خو ګوني مغذي بشپړوونکي ترلاسه کړل.

د پلي کوونکو همکارو مؤسسو او د تغذيې له محلي کلستر سره په همغږۍ، يونيسف همدا راز هغو کورنيو ته اړين تغذيوي خدمات برابر کړل چې د هېواد په کچه د سېلابونو او زلزلو له امله اغېزمنې شوې وې. په ټوليز ډول ۶٬۲۴۹ ماشومان د خوارځواکۍ په موخه معاينه شول، چې ۲۳۶ له بستر پرته د درملنې لپاره ومنل شول او ۱۰۱ د بستر درملنې لپاره راجع شول. پر دې سرېره، ۱۰٬۱۳۴ ماشومانو ته د ويټامين A بشپړوونکي ورکړل شول او ۱٬۶۶۶ لومړني قين چې د له زيږون تر ۲۳ مياشتو عمر لرونکي ماشومان لري د د مور، نوي زيږېدلي او کوچني ماشوم مشورې ترلاسه کړې. په ټوله کې ۶۹٬۷۴۵ مېندو ته د څوګونو مايکرو مغذي موادو بشپړوونکي ورکړل شول. دغه برېدنې اقدامات د بې ځايه کېدو او طبيعي پېښو له امله د زيانمنو ماشومانو او د هغو پر پالونکو د تغذيې د اغېزو کمولو لپاره حياتي وې.

زده کړې

د ۲۰۲۵ کال له جنورۍ تر جون پورې، يونيسف د ۱۴،۰۰۰ محلي زده کړو د ټولګيو له لارې د زده کړې په برخه کې د ۴۴۲،۰۰۰ ماشومانو (۶۶ سلنه نجونې) ملاتړ وکړ. دا د ۲۰۲۴ کال د ۱۸،۰۰۰ ټولګيو په پرتله ۲۲ سلنه کموالی ښيي. پر دې برسېره، ۷،۰۵۰ ماشومان (۶۴ سلنه نجونې) د ختيځ زون په څلورو ولايتونو کې د ماشومتوب د لومړنيو زده‌کړو له ۲۵۵ ټولګيو ګټه اخيستې. تر دې دمه، يونيسف په اوروزګان، زابل، فراه، غور او هرات ولايتونو کې څه باندې ۳۱۲،۰۰۰ زده‌کوونکو (۳۸ سلنه نجونې) ته درسي او تدريسي توکي وېشلي دي. د دغو توکو وېش لاهم روان دی او د تعليمي کال تر پايه به ټولو ولايتونو ته وغځېږي. له ايران او پاکستانه د بېرته راستنېدونکو افغانانو د زياتېدو په غبرګون کې، يونيسف او همکارې مؤسسې د ارزونې په پراو کې دي

څو په ټول هېواد کې د ولسوالیو په کچه د بېرته راستنېدونکو د مېشتېدو وضعیت وارزوي او د بېرته راستنېدونکو ماشومانو ځانګړې اړتیاوې په ښه ډول درک کړي، څو هغوی د افغانستان د زده‌کړې نظام ته په اسانه داخل شي. یونیسف همدا راز د ټولو پنځو زونونو لپاره تعلیمي توکي زېرمه کړي او د ځایي همکارو مؤسسو ظرفیت پې لوړ کړی څو د بېرنیو حالاتو په وړاندې ژر غبرګون څرګند کړي، چې پکې سېلابونه، زلزله او نورې طبیعي پېښې شاملېږي.

د نجونو پر منځنیو زده‌کړو روان بندیز لا هم سترې ستونزې رامنځته کوي، چې د تنکیو نجونو د زده‌کړو فرصتونه او د هغوی هوساینه پې سخته اغېزمنه کړې ده، په ځانګړې ډول د هغو افغان نجونو لپاره چې له ایران او پاکستان څخه بېرته ستنېږي. له دغو ننګونو سره سره، یونیسف ژمن دی چې د ښوونځیو د بېرته پرانیستلو لپاره ملاتړ وکړي او د نجونو زده‌کړې ته پیاوړتیا ورکړي، په ځانګړې ډول د ابتدایي ټولګیو د بشړولو د یقیني کولو لپاره. یونیسف په ټول هېواد کې د ښوونکو د روزنې پروګرام په چوکاټ کې ۲۵،۰۰۰ ښوونکي (پکې ۹،۷۰۰ ښځینه ښوونکې) او ښوونیز مسوولین (لکه مدیران، رئیسان او ښوونکي روزونکي) د دولتي ښوونځیو د ښوونکو په دندو کې د روزنې او همدا راز ښوونې او روزنې ته د نجونو د لاسرسي پروګرام له لارې ملاتړ کړی دی. د ښځینه ښوونکو د روزنې پروګرامونو ملاتړ د افغانستان په کچه د ښځینه ښوونکو د کاري ځواک د پراختیا او پیاوړتیا لامل کېږي، کوم چې د ښځو لپاره د دولتي سکتور دندې تر ټولو ستر فرصت ګڼل کېږي، خو اوس یوازې ۳۴ سلنه ښوونکي ښځې دي.

د ماشوم خوندیتوب، په بېرنیو شرایطو کې د جنسیتي/جنډر تاوتریخوالي او له جنسي ګټې اخیستنې او ناوړه استفادې څخه مخنیوی

د ۲۰۲۵ د کال په لومړۍ نیمایي کې، یونیسف له څه باندې ۷۳۰ زرو ماشومانو او سرپرستانو سره د ماشومانو د خوندیتوب د مخنیوي، د خطر کمولو او غبرګون خدمات ترلاسه کړي — چې ۵۹ سلنه پې ماشومان او ۵۱ سلنه پې نجونې وې. په دې شمېر کې ۴٬۳۰۰ معلول ماشومان هم شامل دي.

د ټولو ګټې اخیستونکو له ډلې، ۳۶۹٬۵۲۸ تنه (۱۱۶٬۹۴۳ نجونې، ۱۲۷٬۰۷۵ هلکان، ۶۵٬۶۶۳ ښځې او ۵۹٬۸۴۷ نارینه) په مشخص ډول د روانې او ټولنیز ملاتړ له خدماتو برخمن شول. دغه خدمات د کلیدي پیغامونو او منظمو اقداماتو له لارې د ماشومانو د خوښې وړ ځایونو، روغتیایي مرکزونو، د لنډمهال مراقبت مرکزونو او ښوونځیو کې وړاندې کېدل. نږدې ۱۲٬۰۰۰ ماشومان (۲۷ سلنه پې نجونې) د قضیو د مدیریت له خدماتو ګټې واخیسته، چې په دې کې د کورنۍ مونډل او بیا یو ځای کول شامل وو، او له دې له لارې ۵٬۳۲۰ بې سرپرسته او له کورنس جلا شوي ماشومان د افغانستان په څلورو لویو سرحدي نقطو کې له خپلو کورنیو سره یو ځای شول. پر دې سربېره، د یونیسف پلي کوونکو همکارو مؤسسو شاوخوا ۸۳٬۰۰۰ نجونو، ښځو او هلکانو (۷۱ سلنه پې نجونې او ښځې) ته د جنسي تاوتریخوالي د غبرګون، مخنیوي او د خطر کمولو خدمات وړاندې کړل، چې دا خدمات د بدیلو لارو په کارولو ترسره شول، لکه له لیرې څخه د قضیو مدیریت، ټولنیز پوهاوی، کور په کور لیدنې او د جنسي تاوتریخوالي د پېغامونو له نورو پروګرامونو سره یو ځای کول. د چاودېدونکو موادو د خطر پوهاوی شاوخوا ۲۷۱٬۰۰۰ ماشومانو او سرپرستانو ته وړاندې شو، چې له دې ډلې ۱۲۸٬۰۰۰ تنه (۴۷ سلنه) نجونې او ښځې وې.

د یونیسف د ماشومانو د خوندیتوب او له شخړو څخه د اغېزمنو ماشومانو/د ځارنې او راپور ورکولو د میکانیزم ټیم په کابل کې درې ورځنی ورکشاپ جوړ کړ، ترڅو ګډونوال د ځارنې او راپور ورکولو د میکانیزم له معیارونو سره بلد کړي او د ۲۰۲۵ کال لپاره د هغو د پلي کولو ستراتیژي جوړه کړي. په دغه ورکشاپ کې ۲۵ ګډونوالو ګډون وکړ، چې پکې د ماشومانو د خوندیتوب ساحوي مسؤلین او د ځارنې او راپور ورکولو د هېوادني کاري ګروپ غړي شامل وو او یوناما د دغه کاري ګروپ د ګډ مشر په توګه برخه لرله.

یونیسف د ماشومانو د خوندیتوب په پروګرام کې د جنسي استفادې او ناوړه ګټې اخیستنې د مخنیوي، راپور ورکولو او غبرګون ادغام ته دوام ورکړ. د دغه پروګرام همکارو ادارو د پلي کوونکو همکارو مؤسسو ۶٬۰۰۰ تنه کارکوونکي، د نورو برخو کارکوونکي او د ټولنې غړي په ټولو ساحوي دفترونو کې وروزل. یونیسف همدا راز د جنسي استفادې او ناوړه ګټې اخیستنې د مخنیوي په اړه د پوهاوي لوړولو ته دوام ورکړ او د ۲۰۲۵ کال په لومړۍ نیمایي کې پې څه باندې ۲۰۱٬۰۰۰ ماشومان او لویان (۵۳ سلنه پې نجونې او ښځې) تر پوښښ لاندې راوستل.

اوبه، حفظ الصحه او پاکوالی (WASH)

یونیسف د اوبو، فاضله موادو د مدیریت، حفظ‌الصحې او د د بېړني حالت د وقایوي خدماتو وړاندې کولو ته په هرات، نیمروز، کندهار او ننګرهار کې د څلورو اصلي سرحدي نقطو او د لنډمهالې استوګنې په مرکزونو کې دوام ورکړی، څو په دغو ځایونو کې د اوبو، حفظ الصحې او نظافت د درناوي وړ خدمات موجود وي. یونیسف په اسلام قلعه او میلک (د ایران پر پوله) کې د اوبو د رسونې او د حفظ‌الصحې د نورو اسانتیاوو پر جوړولو کار کوي، څو هره ورځ له ایران څخه د راتلونکو ۲۵،۰۰۰ بېرته راستنېدونکو لپاره خدمات برابر کړي. د ۲۰۲۵ تر جون پورې، په ټولیز ډول ۷۵۱٬۴۴۰ کسانو[3] چې پکې ۲۵۹٬۰۲۶ تنه له ایران او پاکستانه بېرته راستنېدونکي شامل دي، په ۱۷ ولایتونو[4] کې د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی مونډلی دی. له دې شمېر څخه، ۴۱۱٬۳۷۲ کسانو[5] ته د اوبو د رسولو د سیستمونو د جوړولو او رغولو له لارې دایمي اوبو ته لاسرسی برابر شوی دی.

په همدې موده کې، ۱۷۸٬۳۹۱ تنه[6] چې پکې بېرته راستنېدونکي او د طبیعي پېښو ځپلي شامل دي د حفظ‌الصحې له بېرنیو خدماتو ګټه اخیستې، چې د شپږو ولایتونو[7] په کچه د فاضله موادو د مدیریت د ۷۶۴ مرکزونو د جوړولو او رغولو له لارې برابر شوي دي. پر دې سربېره، ۱۸۷٬۰۴۷ کسانو[8] په ۱٬۹۹۲ ټولنو کې د نوو ۸٬۳۵۳ تشنابونو په جوړولو او د ۱۸٬۳۶۸ موجوده تشنابونو په ښه کولو سره د ابتدایي حفظ‌الصحې د اسانتیاوو لاسرسی تر لاسه کړ. دا چارې د ټولنیزې حفظ‌الصحې د پروګرام له لارې په ۳۴ ولایتونو کې ترسره شوې. په ورته ډول، ۱٬۱۶۶٬۱۰۲ تنه[9] چې پکې بېرته راستنېدونکي، د طبیعي پېښو او ناروغیو د خپریدو اغېزمن خلک شامل دي د اوبو، حفظ الصحې او نظافت توکي لکه د اوبو د پاکولو مواد، د کورنیو د حفظ‌الصحې بستې، د ښځو لپاره د میاشتنۍ ناروغۍ د حفظ‌الصحې توکي او صابون تر لاسه کړي دي. همدا راز، ۸۹۸٬۲۰۵ کسانو[10] د حفظ‌الصحې د پوهاوي د ترویج له

---

[3] ۱۷۲,۸۳۱ ښځې؛ ۱۹۵,۳۷۴ نجونې؛ ۱۷۲,۸۳۲ سړي او ۲۱۰,۴۰۳ هلکان.
[4] بلخ، فراه، فاریاب، هلمند، هرات، کابل، کندهار، کاپیسا، کندز، لغمان، لوګر، ننګرهار، نیمروز، پکتیکا، پروان، سرپل او زابل.
[5] ۹۴,۶۱۶ ښځې؛ ۱۰۶,۹۵۷ نجونې؛ ۹۴,۶۱۵ سړي او ۱۱۵,۱۸۴ هلکان.
[6] ۴۱,۰۳۰ ښځې؛ ۴۶,۳۸۲ نجونې؛ ۴۱,۰۳۰ سړي او ۴۹,۹۴۹ هلکان.
[7] غور، کابل، کندهار، لوګر، ننګرهار او نیمروز.
[8] ۴۳,۰۲۱ ښځې؛ ۴۸,۶۳۲ نجونې؛ ۴۳,۰۲۱ سړي او ۵۲,۳۷۳ هلکان.
[9] ۲۶۸,۲۰۳ ښځې؛ ۳۰۳,۱۸۷ نجونې؛ ۲۶۸,۲۰۳ سړي او ۳۲۶,۵۰۹ هلکان.
[10] ۲۰۶,۵۸۷ ښځې؛ ۲۳۳,۵۳۳ نجونې؛ ۲۰۶,۵۸۸ سړي او ۲۵۱,۴۹۷ هلکان.

فعالیتونو ګټه پورته کړه، چې تمرکز یې پر صابون سره د لاسونو پر مینځلو، شخصي نظافت، د څښاک اوبو د خوندي انتقال، ساتنې او کارونې او همدا راز د اوبو، حفظ الصحې او نظافت د مرکزونو پر سمې ساتنې او کارونې و. دغو هڅو د روغتیا د ښه والي او د مخنیوي وړ ناروغیو د خپریدو په کمښت کې مرسته کړې ده.

پر دې سربیره، ۳۲٬۷۸۲ زده‌کوونکو[11] او ۵۵۸ ښوونکو په کونړ او ننګرهار ولایتونو کې په ۳۶ ښوونځیو کې د خوندي او باور وړ اوبو، حفظ‌الصحې او د لاس مینځلو اسانتیاوو ته لاسرسی وموند.

د کافي تمویل نشتوالی د هغو بېرته راستنېدونکو د بېرنیو اړتیاوو په پوره کولو کې له اصلي ستونزو څخه دی، چې دوامداره راتګ یې د کوربه زیانمنو ټولنو پر نازک حالت فشار زیات کړی او د بېرته راستنېدونکو په سیمو کې محدود خدمات له ستونزو سره مخامخ کړي دي. دغه حالت د کمو سرچینو پر سر د ټولنیزو شخړو د رامنځته کېدو خطر زیاتوي.

ټولنیزه ښکېلتیا او مشارکت، ځوانان او تنکي ځوانان او اغېزمنو شویو/زیانمنو کسانو ته حساب ورکول

د جنورۍ او جون ترمنځ، یونیسف څه باندې ۱۲ میلیونو خلکو ته (۵۰ سلنه ښځې) د ژوند ژغورونکو معلوماتو د رسولو په موخه رسیده کې وکړه چې پکې د خوارځواکۍ مخنیوی، د شیدې ورکولو ارزښت، واکسین، روانې روغتیا، د ناروغیو مخنیوی، د خوندي اوبو کارونه، په پرانیستې فضا کې د حاجت له رفع کولو ډډه کول او د حفظ الصحې ترویج شامل و.

پردې سربیره، څه باندې ۱.۹ میلیونه خلک (۵۳ سلنه ښځې) د چلند بدلون پروسې سره په همدې موضوعاتو کې د موجودو ټولنیزو مشارکتي جوړښتونو له لارې ښکېل شول، لکه د تعاون دینی علماوو شبکه، د قهرمانان ځوانانو شبکه، د نیاګانو ګروپونه، ټولنیز روغتیايي کارکوونکي، د ماشوم د خوندیتوب د اقدام شبکې، د ټولنې په مشرۍ بشپړه حفظ الصحه، او د ښوونځي د مدیریت شوراګانې.

د واکسین د اونۍ پر مهال، د تعاون شبکه او د حج او اوقافو وزارت په جوماتونو کې د اعلانونو له لارې په اتو ولایتونو: لوګر، جوزجان، کنړ، نیمروز، هلمند، تخار، غور او پنجشیر کې د واکسین هڅونې ته رسمي ملاتړ برابر کړ. د واکسین د نړیوالې اونۍ د څو پلټفارمي طریقې له لارې ونمانځل شوه، چې ټولنیزې شبکې یې د پوهاوي لوړولو او د ځایي ادارو د ښکېلتیا لپاره وکارولې. پر دې سربیره، یونیسف په ختیځ او سوېلي زون کې د پولیو له نوښتونو سره د هر اړخیز اقدام ملاتړ وکړ، چې د خدماتو د لاسرسي او د پولیو د کمپاین په اړه د پوهې په زیاتوالي کې یې مرسته وکړه او په پایله کې د ګوزنې واکسین پوښښ لوړ شو.

د مور او ماشوم لپاره د نغدو مرستو تر پروژې لاندې، یونیسف د څلورو زونونو امبندوارو او شیدې ورکونکو ښځو ته د نغدې مرستو ترڅنګ د روغتیا، حفظ الصحې او تغذیې اړوند د چلند د بدلونونو هڅونه وکړه. په دغه نوښت کې ټول ۱۱,۲۷۸ د ټولنې غړي بسیج شول چې ۶۵ سلنه یې ښځې وې. پردې سربیره، د والدینو ډیجیټلي کمپاین چې ۳.۵ میلیونو کاروونکو ته متوجه و، د مثبتې مورولۍ او پلارولۍ دودونه او د ماشومانو پر وړاندې د تاوتریخوالي پای ته رسولو هڅې ترویج کړې.

د ملي ظرفیت د پیاوړتیا په موخه، په بېلابېلو زونونو کې ۵,۴۲۹ کسان (۴۹ سلنه ښځې) وروزل شول تر څو د ټولنې د غړو او لومړۍ کرښې کارکوونکو د بین الفردي اړیکو، ټولنیز مشارکت، د اوازو د مدیریت او د ټولنې د نظرونو د راټولولو په برخه کې وړتیا لوړه شي. پر دې سربیره، یونیسف په درېیو مهمو زونونو کندهار، مزار، او بامیان کې د ټولنیز سیستم د پیاوړتیا روزنې ترسره کړې چې له اساسي ټولنیزو پلټفارمونو لکه تعاون، نیاګانو ګروپونو، ځوانانو، د ټولنې په مشرۍ بشپړه حفظ الصحه، د ښوونځي د مدیریت شوراګانې، د ماشوم د خوندیتوب د اقدام شبکې او د ټولنیزې روغتیا جوړښتونو څه باندې ۳۰۰ ګډونوال شامل و.

د هېواد په کچه د ګڼو بېرنیو حالاتو په غبرګون کې، د ټولنیز مشارکت پروګرام خپلې هڅې زیاتې کړې او د پولې په هر ځای کې یې د ټولنیز مشارکت او نظرونو مرکزونه او د معلوماتو میزونه ځای پر ځای کړل. دغو نوښتونو یو ملاتړی چاپېریال رامنځته کړ چې له لارې یې بېرته راستنېدونکي ځان ارزښتمن او ترلې احساسوي. دغو تعاملاتو بېرته راستنېدونکو ته ښه راغلاست ووایه، اړین معلومات او د خدماتو مراجعې یې ورکړې، څو هغوی ځواکمن او باخبره شي. په ټول کې، څه باندې ۱۴۷,۰۰۰ بېرته راستنېدونکي (۶۷ سلنه ښځې) د ژوند ژغورونکو پیغامونو او د نظریاتو د میکانیزمونو له لارې د ختیځ، لوېدیځ او جنوب په پولو کې تر پوښښ لاندې راغلل چې د خدماتو په ښه وړاندې کولو کې یې مرسته وکړه.

پر دې سربیره، د ټولنیز مشارک پروګرام پراخ کمپاینونه د بېرنیو روغتیايي حالاتو په غبرګون کې پیل کړل. په شمالي او سوېلي زون کې د ټولنې څه باندې ۲,۵۰۰ غړي د کریمیا کانګو ویني بهېدونکې تبې د مخنیوي په اړه وروزل شول. د شدید نس ناستې په غبرګون کې، په سوېلي او مرکزي زون کې ټیمونو د حفظ الصحې جلسې وکړې او بستې یې ووېشلې، چې پکې څه باندې ۲ میلیونه د اوبو تصفیه کولو ګولۍ او ۲۸۰,۰۰۰ صابونونه شامل وو، چې څه باندې ۹,۹۰۰ وګړي یې تر پوښښ لاندې راوستل. په کندهار کې د شري یا سرخکانو ناروغۍ د خپریدو پر مهال، ۱۱,۲۹۷ کسانو د مخنیوي او درملنې په اړه پوهاوی ترلاسه کړ.

یونیسف په افغانستان کې د U-Report مشارکت پراخ کړ چې ۱۵,۰۰۰ نوي کاروونکي یې ورزیات کړل او ۱۴۸ اصلي روزونکي او ۳,۸۵۴ ځوان ګډونوال یې وروزل. د "قهرمانان" ځوانانو شبکه خپلې هڅې پراخې کړې او په ټول هېواد کې یې ۲۷,۰۹۹ ځوانان (۵۰ سلنه ښځې) ښکېل کړل، چې ۶۸ اصلي غړي او ۳,۴۱۹ فرعي غړي یې درلودل. نوې لارې لکه د ننګرهار ولایت د روداتو ولسوالۍ کې د کرکټ سیالۍ وکارول شوې څو ځوانان بسیج کړي او د واکسین پیغامونه خپاره کړي چې له ۱۴,۰۰۰ څخه زیات خلک یې تر پوښښ لاندې راوستل. په زابل کې د ځوانانو د رضاکارو اتلانو ډلې د سپورټ او ټولنیزو رسنیو له لارې د واکسین د ترویج لپاره کار وکړ، په داسې حال کې چې د لوېدیځ زون ځوانو رضاکارانو د پولیو په اړه څه باندې ۱,۱۰۰ کسانو ته پوهاوی ورکړ.

د اغېزمنو خلکو د حساب ورکولو د یوې برخې په توګه، یونیسف د اغېزمنو خلکو، په ځانګړې ډول ښځو او نجونو، غږونه د هغوی د اندېښنو او بېرنیو اړتیاوو په اړه اوچتوي. د جون میاشتې تر پایه، یونیسف د ۱۶۲,۴۴۶ نظرونه او شکایتونه ثبت کړي (۵۳ سلنه ښځې) چې له هغې جملې ۸۹ سلنه د ټولنې د نظریاتو د ګډو میکانیزمونو له لارې ترل شوي، چې د ټولنیز مشارکت او نظرونو څه باندې ۱۰۰ مرکزونه، ټولنیز جوړښتونه، د یونیسف په ملاتړ د اړیکې

[11] ۱۴,۴۲۹ نجونې؛ ۱۸,۳۵۳ هلکان.

نیولو مرکزونه، یو ریپورټ او د همکارو مؤسسو میکانیزمونه شامل دي. د ټولنیز مشارکت او نظرونو د مرکزونو له لارې څه باندې ۹۴ سلنه نظرونه راټول شوي. ټولې هغه قضیې چې نه وې حل شوې د یونیسف اړوندو پروګرامونو څانګو او کلسټرونو ته د مناسب اقدام او حل لپاره استول شوې دي.

د ټولنې د نظریاتو د مدیریت سیستم له لیدونو څرګندېږي چې له ۶۷ سلنه زیات ځواب ویونکي د بشري مرستې غوښتونکي وو، ورپسې ۱۴ سلنه د پروګرامونو په اړه مثبتې نظرې وې. د شکایتونو د حل میکانیزم له لارې ۲,۸۰۴ شکایتونه (۱۱ سلنه ښځې) ثبت شوي چې له هغې جملې ۷۴ سلنه ترل شوي دي. ډېر شکایتونه د کار او کاري شرایطو (۶۵ سلنه) او د کارکوونکو د معاشونو د ستونزو په اړه وو.

په ښلاښلو برخو کې مهمې اندښنې د ټولنې پر هوسایني اغېز کوي. د روغتیا په برخه کې، ټولنې له ناکافي روغتیايي مرکزونو، د اساسي درملو د محدود لاسرسي او د مور او ماشوم په روغتیايي خدماتو کې له لویو تشو سره مخ دي. تغذیه لا هم یوه مهمه ستونزه ده، د خوړو پراخه ناامني، مغذي خوړو ته نه لاسرسی، د امېندوارو ښځو کمزورې تغذیه او د ماشوم د خوارځوالۍ د قضیو زیاتوالی.

د اوبو، حفظ الصحې او نظافت په برخه کې، ډېرې ټولنې د پاکو اوبو د محدود لاسرسي، د اوبو له لارې د ناروغیو پیدا کېدل او د اوبو رسولو د ناکافي زیربناوو له ستونزو سره مخ دي. د زده‌کړې په برخه کې، ننګونې د ښوونځیو د محدود لاسرسي په ځانګړې ډول په لرو پرتو سیمو کې، د جنسیتي توپیرونو د دوام له امله د نجونو زده‌کړې ته د خنډونو، او د ښوونې د ټیټې کچې په بڼه دي چې په ټولګیو کې د بیروبار او د تدریسي موادو له نشتون څخه رامنځته کېږي.

په پای کې، د ماشوم د خوندیتوب په برخه کې اندښنې شته چې د خوندیتوب د خدماتو محدود فعالیت او لاسرسی او همداراز هغه خنډونه شامل دي چې ماشومان اړین مراقبت او درملنې ته له رسېدو منع کوي.

جنسیت (جنډر) او د تنکیو ځوانانو پرمختګ او ګډون/مشارکت

د راپور ورکولو په موده کې، یونیسف پر ښځو له تمرکز لرونکو ادارو سره همکاري وکړه ترڅو ۲۳،۴۲۵ ښځو او تنکیو نجونو (۹،۴۴۳ ښځې، ۱۳،۹۸۲ نجونې) ته په ختیځ، مرکزي او شمالي زونونو کې ښځو او نجونو ته د جوړو شویو ۱۳ خوندي ځایونو له لارې هر اړخیز خدمات او ژوند ژغورونکي معلومات برابر کړي. دغه ټولنیز-محوره ځایونه ښځو او نجونو ته د روغتیا او تغذیې، ډیجیټلي لاسرسي، مهارتونو روزنې او روانې-ټولنیز ملاتړ په ګډون د خدماتو او معلوماتو بشپړې بستې ته خوندي لاسرسی برابر کړ. په ټولیز ډول ۹،۵۱۳ تنکیو نجونو د مهارتونو د روزنې له پروګرامونو ګټه واخیسته، چې پکې د اړیکو او چلند مهارتونه، ډیجیټلي زده‌کړې او مسلکي روزنه شامله وه. د دغو ځایونو په چوکاټ کې جوړ شوي ډیجیټل مرکزونه د نجونو لپاره د کمپیوټر او انټرنېټ ابتدايي مهارتونه، آنلاین زده‌کړیزو کورسونو کې نوم لیکنه او د ډیجیټل بازارموندنې وسایلو ته لاسرسی برابر کړ، ترڅو د ټولنیزې انزوا مخه ونیسي او د همځولو ترمنځ د ملاتړ زمینه برابره کړي.

د زیانمنو ټولنیزو او جنډر دودونو د کمولو او خدماتو ته د ښځو د لا ډېر لاسرسي لپاره، ۴۶،۸۸۱ نارینه او هلکان د منظمو بحثونو له لارې ښکېل شول. د نارینه وو او هلکانو د ښکېلتیا جلسې د نارینه وو د هڅونې، په کورنۍ او ټولنه کې د نجونو د ارزښت لوړولو او د مثبتو جنډر دودونو د ودې پر موضوع تمرکز وکړ. پر دې سربېره، د پنځو زونونو په کچه د ۴،۱۵۰ روغتیايي مرکزونو کارکوونکو او مخکښو کارکوونکو (۲،۳۳۵ ښځې، ۱،۸۱۵ نارینه) ورتیاوې لوړې شوې ترڅو د جنډر او تنکیو لپاره د غبرګون روغتیايي خدماتو د وړاندې کولو توان ولري. په دې کې د ښځینه روغتیايي کارکوونکو (ډاکترانو، نرسانو او قابلو) ځانګړې روزنه شامله وه، څو له ناوړه چلند څخه د ژغورل شویو لپاره د خدماتو کلینیکي مدیریت وړاندې کړي.

ټولنیز خوندیتوب او د بشري مرستو د نغدو پیسو لېږد

د ۲۰۲۵ کال له جنورۍ تر جون پورې، یونیسف د مور/ماشوم نغدي مرستې د انتقال پروګرام له لارې په زابل، سمنګان، بادغیس او کنړ ولایتونو کې ۶۵,۲۵۴ کورنیو (څه باندې ۴۳۰,۰۰۰ کسان) ته ټولنیزې نغدي مرستې ورسولې. دغه پروګرام د خطر پر اساس او د جنسیت حساسه تګلاره تعقیبوي تر څو د ملاتړ عادلانه او خوندي وړاندې کېدل یقیني کړي. د پروګرام موخه دا ده چې په ټاکل شوو ولایتونو کې څه باندې ۶۵,۰۰۰ کورنۍ چې امېندوارې او شیدې ورکوونکې مېرمنې او تر دوه کلنۍ کم عمره ماشومان لري، د ۱۸ میاشتو په موده کې دا ملاتړ ترلاسه کړي.

د راپور ورکولو په موده کې، یونیسف د ۲۰۲۴-۲۵ ژمنۍ غبرګون پروګرام هم بشپړ کړ چې د دایکندي ولایت د شهرستان ولسوالۍ ۶,۵۳۷ تر ټولو زیانمنو کورنیو (۳۷,۲۳۳ کسان) ته د ژغورنې لپاره څو اړخیزې نغدي مرستې ورسولې. د ژمنې غبرګون پروګرام موخه دا وه چې په هغو زونونو کې چې د ژمې له ستونزو اغېزمن شوي وو، ماشومانو او د کورنیو نورو غړو ته د اساسي اړتیاوو او خدماتو لاسرسی یقیني شي. پروګرام هغو کورنیو ته لومړیتوب ورکړ چې پکې امېندوارې او شیدې ورکوونکې مېرمنې، د ښځو په سرپرستۍ کورنۍ، د معلولو کسانو په سرپرستۍ کورنۍ، د معلولو ماشومانو درلودونکې کورنۍ او تر دوه کلنۍ د کم عمره ماشومانو کورنۍ شاملې وې.

همدا راز، په همدې موده کې یونیسف د تخار ولایت د اشکمش ولسوالۍ ۲,۹۰۴ کورنیو (۲۳,۸۶۵ کسان) ته د وچکالۍ د اټکل له مخې د اقدام د پروګرام له لارې یو ځل ګڼ اړخیزې نغدي مرستې ورسولې. دا اقدام د دې لپاره طرحه شوی چې د وچکالۍ لومړنۍ بشري اغېزې کمې کړي او تر ټولو زیانمنو کورنیو ته لاسرسی یقیني کړي.

د بشري مرستو رهبري، همغږي او ستراتیژي

۲۰۲۵ کال له مالي محدودیتونو سره پیل شو، ځکه د بودیجې کمښت هم د پروګرامونو پر پلي کېدو او هم د معارف برخې د ځینو همکارو ادارو لپاره د کارکوونکو پر ګومارنې دواړو اغېز وکړ. په پایله کې باید بشري اړتیاوو ته د غبرګون پلان د موخو او مالي اړتیاوو له نظره بیا کتل شوی وای. پر دې سربېره، د بشري همغږۍ پر جوړښت د بیاکتنې په موخه یو بشري بیاتنظیم پیل شو تر څو دغه جوړښت د موجودو شرایطو لپاره اغېزناک، کارند او متناسب کړي.

د معارف د کسلتر همکارانو له یو بل سره په ګډه کار کړی دی تر څو تضمین کړي چې بهرته راستنېدونکي کسان تر بهرته راستنېدو وروسته په ښوونځیو کې د خپلو ماشومانو د شاملولو په اړه اړین معلومات ترلاسه کوي، خو په دې برخه کې لا ښه تعقیب ته اړتیا ده تر څو تضمین شي چې بهرته راستنېدونکي ماشومان په ښوونځیو کې شاملېږي او زده‌کړو ته لاسرسی لري، ځکه چې دغه موضوع لا هم په غبرګون کې یوه نیمګړتیا ده. تر دې مهاله نږدې ۵۰،۰۰۰

بېرته راستنو شويو ماشومانو د مرستې د مېزونو له لارې مرسته ترلاسه کړې ده. له ننګونو سره سره، همکارو ادارو د تعليمي خدماتو وړاندې کولو ته دوام ورکړی دی او زده‌کړو ته په لاسرسي کې يې له څه باندې ۴۰۰،۰۰۰ ماشومانو سره مرسته کړې ده.

په جون میاشت کې د ماشوم د خوندیتوب د مسؤولیت ساحې همکارانو ۲۵,۰۳۳ نویو ګټې اخیستونکو[12] ته د ماشوم د خوندیتوب خدمات وړاندې کړل. په دغو خلکو کې چې خدمات يې ترلاسه کړل، ۲۶۹ يې معلولیت لرونکي وو. د جون میاشتې په ګټې اخیستونکو کې ۱۳,۳۶۲ ماشومان (چې ۵,۹۰۱ يې نجونې وې) او د ۷۱۹۵ ښځو په ګډون ۱۱,۶۷۱ لویان وو. د ماشوم د خوندیتوب د خدماتو د نویو ګټې اخیستونکو ټولیز شمېر (د ۲۰۲۵ کال له جنورۍ ځخه تر جون میاشتې پورې) دا مهال ۳۸۶,۲۸۲ دی. د ماشوم د خوندیتوب تخصصي خدمات ۳۶۳ هغو ماشومانو او تنکیو ځوانانو ته (چې ۵۲ يې نجونې وې) وړاندې شول چې د ماشومانو د حقونو له جدي نقض سره مخ شوي وو. ۷۲۵ يې سرپرستو او جلا شویو ماشومانو ته (چې یوه يې نجلۍ وه) د تعقیب او له کورنۍ سره د بیایوځایوالي ملاتړ ورکړل شو. ۳۷ ماشومانو (چې ۱۷ يې نجونې وې) د قضيې د مدیریت د یوې برخې په توګه نغدې پیسې ترلاسه کړې. ۸,۰۱۷ ماشومانو ته (چې ۴,۲۴۰ يې نجونې وې) روانې-ټولنیز ملاتړ ورکړل شو، پر دې سرېره ۲,۳۷۶ ماشومان (چې ۵۷۹ يې نجونې وې) د قضيې د مدیریت خدماتو ته راجع شول او ۲۸۳ ماشومان (چې ۱۶۵ يې نجونې وې) د روانې روغتیا تخصصي خدماتو ته راجع شول. پر دې سرېره، ۲۰۱ لویانو (چې ۸۷ ښځې وې) او د ماشومانو د خوندیتوب او نورو برخو کارمندان (ټولنیز کارکوونکي، د قضیو کارکوونکي، ښوونکي، روغتیايي کارکوونکي او چارواکي) پکې شامل وو، د ماشومانو د خوندیتوب د اصولو او معیارونو په اړه رزونه ترلاسه کړه. ۱۱,۴۲۱ والدینو او سرپرستانو ته (چې ۷,۰۷۶ ښځې وې) د خپلو ماشومانو د روانې-ټولنیزې هوسایۍ د ښه کولو یا ملاتړ لپاره ملعومات ورکړل شول.

د یونیسف په مشرۍ د ماشومانو د خوندیتوب د مسؤولیت ساحې له ایران سره د اسلام قلعې په سرحد کې د خوندیتوب تر کاري ګروپ لاندې د ماشومانو د ملاتړ د شپږو همکارو ادارو تر منځ د همغږۍ رامنځته کولو لپاره یو جرګه ځای یا فورم جوړ کړ. د همغږۍ یوه غونډه په دې موخه وشوه چې د غبرګون په برخه کې همکارۍ، د ماشومانو د خوندیتابه ارجاعات او خدمات او همدا راز له نورو کلسترونو سره همکاري پیاوړې شي. د ماشومانو د ملاتړ ټیمونو به هره اونۍ په سرحد کې د وضعیت د ارزولو او د اصلاحي اقداماتو او په ګډه د راپور ورکولو لپاره ناستې کولې. درې سندونه خپاره او وېشل شوي دي چې د همکارو ادارو د خدماتو نقشه او د يې سرپرسته، له کورنۍ ځخه د جلا شویو او ورکو شویو ماشومانو لپاره د ارجاع مسیر دي. د ماشومانو لپاره شپږ د ماشومانو د خوښې وړ شپږ ځایونه او د يې سرپرستو او جلا شویو ماشومانو لپاره د لنډمهالي مراقبت یو مرکز موجود دی.

د ۲۰۲۵ کال د جنورۍ او جون میاشتو تر منځ په ټولیز ډول ۲۹۴,۷۶۰ هغه ماشومان چې عمرونه يې تر پنځو کلونو ټیټ وو او په شدیده خوارځواکۍ اخته وو، بستر شول او درملنه يې وشوه چې په دې کې ۲۴,۰۳۰ کسان د درملنې لپاره بستر شول او ۲۷۰,۷۳۰ کسان له بستر پرته د درملنې لپاره ومنل شول. پر دې سرېره، ۶۴۴,۹۲۰ هغه ماشومان چې عمرونه يې تر پنځو کلونو ټیټ وو او ۴۸۱,۷۹۳ هغه امېندوارې او شیدې ورکوونکې ښځې چې په منځنۍ شدیده خوارځواکۍ اخته وې، د تغذیې د یوه هدفمند بشپړتیايي پروګرام له لارې رسیدګي ورته وشوه.

د ۲۰۲۵ کال د جنورۍ او جون میاشتو تر منځ په افغانستان کې د اوبو، حفظ‌الصحې او نظافت کلستر همکارو ادارو له ډېرو ننګونو سره مخ شول او په یوه پېچلي عملیاتي چاپېریال کې يې د ژوند ژغورونکو خدماتو د ساتنې یا تداوم لپاره حیاتي هڅې وکړې. د بودیجې له شدید کمښت سره چې لسګونه زره کسان يې اغېزمن کړل، د ۴,۴۰۰ روغتیايي بستو وېش، د اوبو د ۲۲ سیستمونو بیارغونه، د ۲۰۰ تشنابونو جوړونه او د څه باندې ۳۰,۸۰۰ کسانو لپاره د حفظ‌الصحې ترویج هم ودرېد.

له پاکستان او ایران ځخه د بېرته راستنېدونکو د راتګ له ډېرېدو سره د اوبو، حفظ‌الصحې او نظافت کلستر او همکارې ادارې په پوله کې د لنډمهالې استوګنې په ځایونو کې د اوبو، حفظ‌الصحې او نظافت اړین ملاتړ وړاندې کوي او د غبرګون پلانونه تر لاس لاندې دي تر څو دغه خدمات د بیا مېشتېدو په ساحو کې د بېرته راستنېدونکو له اوږدمهالې ملاتړ سره وتړل شي. په ټولیز ډول ۱۲۷,۲۰۲ کسانو د ۲۰۲۵ کال له جنورۍ راهیسې په تورخم کې د ځښاک پاکې اوبه، د حفظ‌الحصې اسانتیاوې، مهم روغتیايي پیغامونه او بستې ترلاسه کړي دي. په کابل کې د لنډمهالې استوګنې په مرکز کې شاوخوا ۱۰,۰۰۰ کسانو ته د ځښاک پاکې اوبه او د حفظ‌الصحې او د لاسونو د وینځلو اسانتیاوې برابرې شوې دي. په اوسط ډول هره ورځ شاوخوا ۲,۰۰۰ کسان پاکو یا خوندي اوبو ته لاسرسی پیدا کوي. د لوبدیځ زون په اسلام قلعه پوله کې اته همکارې ادارې هره ورځ د ټانکر او د اوبو رسونې د شبکې، د جامدو کثافاتو د مدیریت، د فاضلابو د تخلیې (هره ورځ ۲۵۰ متر مکعب) او د حفظ‌الحصوي فعالیتونو د ترویج له لارې شاوخوا ۲۰,۰۰۰ کسانو ته خدمات برابروي. د اوبو د تصفیه کولو سیستمونه نصب شوي دي او یو ژور ځاه د کیندل کېدو په حال کې ده تر څو پایدارې یا دایمي اوبه برابرې شي او د ټانکر له لارې د اوبو انتقال په تدریج سره بند شي. شپږ پنځه تشنابونه د استفادې په حال کې دي او ۱۳ نور تشنابونه هم د جوړېدو په حال کې دي. د همغږۍ میاشتنۍ ناستې په ټولو سیمو کې لا هم حیاتي اهمیت لري تر څو سېلاب او بېرته راستنېدونکو ته د غبرګون ستراتیژۍ همغږې کړي.

د اوبو، حفظ‌الصحې او نظافت کلستر د یونیسف په مرسته د اوبو او حفظ الصحې د ګروپ په غونډه او همدا راز د لوړې کچې تخنیکي کمېټې په غونډه کې د کلیو د بیارغونې او پراختیا له وزارت سره یوځای د هوکړه لیکونو د خنډونو او اداري کارونو د ځنډونو د له منځه وړلو لپاره ګډ کار وکړ. همدارنګه د سیمه ییزې همغږۍ او بین السکتوري همغږۍ د سراتیژۍ د جوړېدو لپاره د فرعي کلستر یوه ملي ناسته وشوه. هرات ته په یوه بین السکتوري ساحوي سفر کې د دغه کلستر ګډون ځایي یا محلي تعامل لا ډېر پیاوړی کړ او له ولایتي چاوراکو سره يې همغږي لا ښه کړه. په ننګرهار (عمري کمپ او د سرحدي بېرته راستنېدونکو په ساحو) کې د ساحوي ځارنې یا نظارت ماموریتونه ترسره شول او په سوبلي زون کې د همغږۍ ملاتړ هم زیات شو.

په سوبل لویدځ او شمال ختیځ زون کې د جاذبې قوې په واسطه د اوبو را ایستلو د سیستمونو او سولري سیستمونو په اړه د وړتیاوو لوړولو روزنیز پروګرامونه جوړ شول ۵۳ تخنیکي کارکوونکو ته يې ګټه ورسېده. د همغږۍ میاشتنۍ ناستې د هېواد په اتو سیسمو کې لا هم فعال پاتې شول چې تمرکز يې له سېلابه پر زیانمن شویو کسانو او د بېرته راستنېدونکو پر ملاتړ و. پر دې سرېره، په بحراني سیمو کې غبرګون ته د رسیدګۍ لپاره د روغتیا له کلستر سره د شدید نس ناستي (اسهال) کاري ډلې یوه ناسته ترسره شوه. دغه کلستر او ۲۴ تمویل شویو همکارو ادارو په دې دوره کې شاوخوا ۳.۴ میلیونو کسانو ته د اوبو، حفظ‌الصحې او نظافت حیاتي خدمات وړاندې کړل.

[12] ۵,۹۰۱ نجونې؛ ۷,۴۶۱ هلکان؛ ۷,۱۹۵ ښځې؛ ۴,۴۷۶ نارینه؛ ۲۶۹ معلول کسان

د راپور ورکولو په دوره کې د اوبو، حفظ‌الصحې او نظافت خوندي او با عزته خدماتو لپاره لږ تر لږه پنځو ژمنو ته د پابندۍ په اړه یوه سروې ترسره شوه تر څو ټول شموله پروګرام جوړونه او د خدماتو کیفیت وارزول شي، په داسې حال کې چې د شدید نس ناستي د پروسو د ارزونې لپاره د شدید نس ناستي د کاري ډلې او روغتیايي کلستر په همکارۍ د خطر د نقشې یو نوښت هم ترسره شو. د اوبو، حفظ‌الصحې او نظافت د سراتیژیکې بیاکتنې کمیټې د افغانستان لپاره د بشري صندوق د ملي شریکانو وړاندیزونه یا پروپوزلونه کتل پیل کړل او د محلي کولو لپاره یې هڅې پراخې کړې.